**د مسؤليت د رفع کولو يادښت:** دا سند په غير رسمي شکل له يو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه يې د هيڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائيد شوې. کيدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص يا توپيرونه موجود وي.

**د افغانستان اسلامي امارت**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست**

**د دفتر رياست**

**د متحد المال ګڼه: لومړی** **نېټه: ۱۴۴۵/۱/۲۷**

د دې اداري د ۱۴۰۲ هـ ل کال د منظور شوي تشکيل په چوکاټ کې، هغه نظارتي قضيو ته د رسېدنې په موخه چې قضايي تصميم ايجابوي، د اداري فساد د قضيو د تحليل او تعقيب د عمومي رياست په مرکز کې، د اداري فساد قضيو د تحليل او تعقيب آمريت، د ملي دفاع وزارت اړونده قول اردوګانو په ګډون د ولايت په کچه په ملکي او نظامي رياستونو کې، د ولايتونو د استخباراتو او پوليسو پر چارو د نظارت امريتونو کې د اداري فساد قضيو د تحليل او تعقيب مسلکي غړي منځته راوړل شوي دي. له دې کبله، د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست د دندو او صلاحيتونو د قانون د حکمونو د غوره تعميل او د افغانستان اسلامي امارت له محکمو سره د کاري اړيکو د تنظيم په موخه، ټولو ملکي او نظامي نظارتي رياستونو او آمريتونو ته د لاندې مواردو لارښوونه کېږي:

1- د مرکز سکتوري رياستونه دې، د ملکي او نظامي رياستونو په ګډون، په هغه صورت کې چې په وزارتونو، خپلواکو ادارو او په امارتي مراجعو پورې تړاو درلودونکي خصوصي سکتور کې د مرعي الاجراء تقنيني سندونو له حکمونو څخه سرغړونه په ګوته کړي، جرمي شواهد، اسناد او نور اثباتي مدارک او دليلونه دې د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست د قانون دولسمې مادې د دويمې فقرې له مخې ترتيب شوې دوسيې سره يوځای د قرار په ترڅ کې د اداري فساد د قضاياوو د تحليل او تعقيب لوی رياست ته واستوي.

2- په هغه صورت کې چې ولايتي رياستونه او آمريتونه، د ملکي او نظامي رياستونو په ګډون، د مرعي الاجراء تقنيني سندونو له حکمونو څخه سرغړونه په ګوته کړي، اړونده دوسيه دې د دې متحدالمال د لومړي بند په رڼا کې د اړونده رياست/آمريت د اداري فساد قضيو د تحليل او تعقيب آمريت/مسلکي غړو ته د قرار په ترڅ کې واستوي.

3- د ولسواليو د فرمانونو او حکمونو د نظارت او تعقيب آمريتونه دې هم د نظارت پر مهال د مرعي الاجراء تقنيني سندونو له حکمونو څخه د سرغړونې د تشخيص او تثبيت په صورت کې اړونده دوسيه د دې متحدالمال د لومړۍ فقرې په رڼا کې د اړونده ولايت د ملکي رياست د اداري فساد قضيو د تحليل او تعقيب آمريت ته د قرار په ترڅ کې واستوي.

4- په مرکز کې د اداري فساد قضيو د تحليل او تعقيب عمومي رياست او په ولايتونو کې د اداري فساد د قضيو د تحليل او تعقيب آمريتونه او ملکي او نظامي مسلکي غړي مکلف دي چې رسېدلې دوسيې تحليل او په اړه يې په لاندې ډول پرېکړه وکړي:

   1- که چېرې جرمي شواهد، اسناد، مدارک او نور اثباتيه دلايل د فرمانونو او حکمونو د تعقيب او نظارت لوی رياست د دندو او واکونو قانون د حکمونو په رڼا کې راټول شوي وي، قضيه دې د قضائي پرېکړې په موخه ذيصلاح محکمې ته راجع او د محکمو د غوښتنې په صورت کې دې په قضايي جلسه کې ګډون وکړي.

دا سند د حقوقو د پراختيا نړيوال سازمان (IDLO) په واسطه د افغانستان د قانون د حاکميت څارونکي ويبپاڼه (ARLO) پروژې لپاره ژباړل شوی دی. د ARLO په اړه د نورو مالوماتو ترلاسه کولو لپاره مهرباني وکړئ زمونږ ويبپاڼې www.arlo.online ته لاړ شئ.

**د مسؤلیت د رفع کولو یادښت:** دا سند په غیر رسمي شکل له یو رسمي سند څخه ژباړل شوی دی، مګر ژباړه یې د هیڅ دولتي اداري لخوا نه ده تائید شوې. کیدای شي ټوله هڅه د ژباړې د کره کولو د ډاډ لپاره شوې وي. مګر دا هم امکان لري چې د اصلي سند او ژباړې ترمنځ د کلماتو په ټاکلوکې نواقص یا توپیرونه موجود وي.

2- که چېرې کافي جرمي اسناد او مدارک شتون و نه لري او یا صادر شوی قرار د قانون له حکمونو سره سم نه وي صادر شوی ، د تشې او نیمګړتیاوو د رفعې لپاره دې قرار صادر او پاڼې دې بیاځلې اړونده ریاست ته واستوي.

3- که چېرې جرم نه وي شوی او د اړونده ریاست/آمریت د مسلکي غړي صادر شوی قرار محاکماتي دوران ایجاب نه کړي، د پاڼو په حفظ دې پرېکړه وکړي او دوسیه دې د تاییدۍ او تدقیق په موخه د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست ته واستوي.

**په درناوي**

**مولوي شمس الدین "شریعتي"**

**د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست سرپرست**